د افغانستان د اقتصادی او حقوقی مطالعاتو موسسه
موسسه مطالعات اقتصادی و حقوقی افغانستان
Afghanistan Economic & Legal Studies Organization

# JUMP - JOINING UP TO MINIMIZE POVERTY

گامهای مشترک برای مبارزه با فقر

له غربت سره د مبارزې لپاره ګډ ګامونه



## فریبا اندیشمند

د زړورتیا سمبول

# ENTREPRENEURS FOR PROSPERITY IN AFGHANISTAN

کارآفرینان برای رفاه در افغانستان | په افغانستان کې د هوساینې لپاره متشبثین

/AELSO1 /AELSO2 aelso_afghanistan www.AELSO.org

# فریبا اندیشمند

## د زړورتیا سمبول




فریبا اندیشمند او د شرکت تولیدات یې په نندارتون کې

افغان میرمنې چې ډېری یې په دې چاپیریالي پوله کې د خپل تاوتریخوالي او دودیزو ناندریو له امله پېژندل کیږي تاوتریخوالی، تیری او دودیزه تړلې ټولنه افغانستان نور ننګوي، څکه تېرو شلو کلونو کې د ټولو افغانانو په ځانګړې توګه ښځو ډېر زحمتونه تیر کړلي دي، څو وکولای شي له خپلو حقونو څخه برخمن شي او د هېواد په حکومت او پرېکړو کې د خپل ولس او ولایت استازیتوب وکړي، تعلیم او زده کړه وکړي او خپله سوداګری او کاروبار ولري.

د تېرو دوو لسیزو له دغو مېرمنو څخه یوه چې نن یې په دې توانېدلې چې خپله سوداګری او کاروبار پیل کړي، ۲۳ کلنه افغانه پیغله فریبا اندېشمند ده، چې په ۲۰۱۹ کال کې یې په کابل او بامیانو کې یې د روزنه سعادت د کرنې او مالداری شرکت پیل کړ او دا مهال شپږ کارکوونکي لري. هغه نسبتآ په یوه لویه کورنۍ لویه شوې او مور یې د هغه په هڅولو کې ترټولو لوی رول لوبولی ترڅو خپل سوداګری پیل کړي، "له ماشومتوب څخه مې هیله درلوده چې خپل کاروبار ولرم او تل به مې ځان ته د زړورتیا ورکوله".

په افغانستان کې ښځه اوسیدل له کورنیو، ټولنیزو او عنعنوي ستونزو سره د لاس او کریوان په معنا دي چې تل ورسره مبارزه کوي، خو په سلو کې کم شمېر شته چې په دې ازمايښت کې د وطن او قبایلي خاورې ویاړونه بولي او غواړي چې په خپل ځان کې بدلون راولي. "شاوخوا دوه کلونه کیږي چې د روزنه سعادت د لاسي صنایعو په شرکت کې د اجراییوي رییس په توګه کار کوم او دې پوست او مقام مې له ملي او نړیوالو موسسو سره مې پېژنګلوی شوې، همدارنګه له غیر انتفاعي موسسو سره کار کوم تر څو دوی ته خپل محصولات ور وپیژنم." دا ګام د هېواد او ټولنې د وضعیت د ښه والي او په یقیني ډول د ښځو او په ځانګړې توګه د فریبا اندېشمند د وضعیت د ښه والي په موخه اخیستل شوی.

په افغانستان کې د یوې ښځې لپاره یو ګام پورته کول دومره ستونزمن او سترې کوونکی دی لکه د یوې لوړې څوکې ته پورته کیدل، خو ناشوني نه دی."



بند امیر، بامیان، افغانستان

# فريبا انديشمند

## د زړورتيا سمبول



په نندارتون کې د روزنه سعادت د کرنې او مالدارۍ شرکت محصولات

تاسو کولی شئ، تاسو ځواکمن یاست، دا تل داسې خبرې وې چې زه یې وهڅلوم چې د خپلو خوبونو لپاره عملي ګامونه پورته کړم، او زما لومړی هدف د ښځو د مالي ظرفیت وده وه، چې ما د روزن سعادت شرکت په پیل کولو سره ترلاسه کړه. همدارنګه د هغو ښځو موندنه چې له زده کړو څخه منعه شوي او موسساتو ته معرفي شوي وای ترڅو خپلو زده کړو ته دوام ورکړي او په افغانستان کې د هیواد او ټولنې لپاره یو ښه سبا لپاره هغه ګامونه وه چې موږ یې په لیوالتیا سره پورته کړي دي. په افغاني ټولنه کې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی د قومي او سمتي دودونو له امله زیات شوی او یوازینۍ لار یې د زده کړو د حق په اړه د عامو خلکو په ځانګړې توګه د ښځو د پوهاوي لوړول دي.



د روزنه سعادت د کرنې او مالدارۍ شرکت محصولات




فریبا اندیشمند او د شرکت تولیدات یې په نندارتون کې

اغلې اندیشمند په بامیان ولایت کې لویه شوې، خپلې تخنیکي زده کړې یې د بامیکا په انستیتوت کې چې یو علمي مرکز دی، بشپړې کړې وایي: "زما کورنۍ او ملګرې نن ورځ زما په بریا او شخصیت کې کلیدي رول لوبولی، او زه د ژوند کولو لپاره په ژمنتیا او ګټورو هڅو پوره باور لرم."

نوموړې د اغاخان بنسټ د ښځو د پیاوړتیا لپاره د هغوی له کارونو او فعالیتونو څخه خوښه ده او دا د هغې لپاره واقعاً د خوښۍ ورځ ده." همدارنګه هغه دولتي او سیمه ییزې اداري چې زما د کار ملاتړ یې کړی او په دې بهیر کې یې ارزښتناک او د پام وړ رول لوبولی دی.

# فریبا اندیشمند

## د زړورتیا سمبول

فریبا اندېشمند د سلګونو نورو ښځو په څېر په اسانۍ سره ونه شوای کولای چې له دې سیمې او لارې څخه تېره شی او د بریا لوړو څوکو ته ځان ورسوي، خو د ژوند ښې او بدې ورځې یې تجربه کړې او په دوامدارو هڅو یې وکولی شو چې نن دې مقام ته ځان ورسوي، نوموړې وایي: د کار په پیل کې موږ له ستونزو سره مخ وو، لکه د شرعي وثیقې یا قانوني تضمین نشتوالی، په ځانګړې توګه د ملکیت سند، چې موږ د هڅو او زیار له لارې بریالي شو او حل یې کړو، او همدارنګه هغه شخصي اړیکې چې موږ جوړې کړې وې، په هرصورت موږ هغه خنډونه تجربه کړل چې ما ته یې په ژوند کې یو ښه درس او په سوداګرۍ کې ښه پیل راکړ.



„ په ننداړتون کې د روزنه سعادت د کرنې او مالدارۍ شرکت محصولات "



„ په ننداړتون کې د روزنه سعادت د کرنې او مالدارۍ شرکت محصولات "

د ژوند داستانونه یو شان نه دي د نرۍ په ګوټ ګوټ کې د ژوند ښې او بدې کیسې اوریدل کیږي، په ځانګړې توګه د هغو کسانو په منځ کې چې د ښه سبا لپاره مبارزه کوي او هڅې کوي او ډېر خوبونه لري، مېرمن اندېشمند د هغې یوه په زړه پورې خاطره یادوي، چې تل یې په یاد ساتلې او د دوی د مبارزو پایله وه."د نوي فارم پروژه چې موخه یې له ټولو کورونو څخه د لبنیاتو محصولات راټولول وه چې موږ ورځنۍ خواړه چمتو کول، په کابل کې د یو ننداړتون په ترځ کې چې د ډېرۍ لیدونکو لخوا یې ملاتړ او وهڅول شو، دا زما د کاروبار او خوبونو لپاره واقعیا ارزښتناکه ډالۍ وه.

فریبا اندېشمند د افغانستان په یوه لرې پرته سیمه کې د خپلو ځوانانو او ملګرو لپاره د نه ستړي کېدونکو هلو ځلو یوه ژوندۍ بېلګه ده، چې د یوې ښځې په توګه یې په ټولنه کې د رول لوبولو او د دې خاورې ځوان نسل ته د خبرو کولو وړتیا ورکړې ده."د ځانګړو خلکو تیمونو جوړولو باندې تمرکز وکړئ چې کولی شي په ګډه سخت کار وکړي او کار پسې شي." نن که زه وکولی شم په بل ډول په دې سکتور کې بیا پانګونه وکړم او خپل کار سوداګرۍ وکړم غواړم چې په کار او سوداګرۍ کې تجربه لرونکي مېرمنې سره یوځای کړم ترڅو زموږ مختلف نظریات او لیدنه زموږ منزل منزل او یقینا د نظرونو توپیر به د یوې هوسا ټولنې په لور د پرمختګ او ګټورو هڅو لامل شي.

# فریبا اندیشمند

د زړورتیا سمبول




















„ فریبا اندیشمند او د شرکت تولیدات یې په ننداراتون کې "

له هغو کسانو سره چې کار او فعالیت مو درلود، موږ زده کړل چې د ژوند په مختلفو شرایطو کې پیاوړي واوسو او هیله مندي له لاسه ورنکړو او خطرونه واخلو چې دا ټول واقعآ یو انسان جوړوي، هغه مهارتونه چې زه یې دلته ورسولم ښه ملګرتیا، ښې اړیکې همدارنګه په سوداګریزو ننداراتونونو او پروګرامونو کې ګډون کول وه، او یقینا هغه کار او سوداګرۍ چې زه یې نن ورځ لرم نه یوازې زما لپاره بلکې د ځان او ټولنې لپاره د پیسو ګټلو لاره پرانیزي، چې دا واقعا زما لپاره د ویاړ او خوښۍ ځای ده، کله چې د راتلونکې په اړه فکر کوم او په بازار کې زموږ د محصولاتو لپاره روښانه راتلونکی وینم، او زما یوازینۍ اندیښنه په نړیوالو بازارونو کې زموږ د محصولاتو لپاره د بازار نشتوالی دی، او هیله لرم چې زما سوداګرۍ نوره وده ومومي او په سوداګرۍ کې د نامتو میرمنو لیدنه وکړم.